


**د لوی او بخښونکي الله په نامه!**

**اعلامیه :**

د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر ۱۲ نیټه.

## د نجونو د منځنیو او عالي ښوونځیو د تړلو په اړه د افغانستان د ملي خبرو اترو د همغږۍ شورا اعلامیه

_______________-----------------

ښځې د ټولنې د نیمايي برخې په توګه د انسان د پیدایښت له پیله راهیسې د بشري ټولنې په جوړښت کې مهم او پرېکنده رول لوبولي دي.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې چې یو اسلامي هېواد دی، له ډېرو کلونو راهیسې په تېره بیا د غازي شاه امان الله د اصلاحاتو په رڼا کې په ۱۹۱۹ میلادي کال له خپلواکۍ وروسته ښځو زموږ د هېواد په ژوند او جوړښت کې ښه رول لوبولی او له بشري حقونو او خپلواکیو برخه منه وه .

ښځې د مختلفو دولتونو او هر ډول جمهوریتونو په دورو کې د مملکت د اساسي قوانینو پر بنسټ د زده کړې، تحصیل او کار حق درلود او د افغانستان په سیاست او اداره کې یې له ریاسته تر د شورا(پارلمان )غړی توب او د وزیر تر کچه د پام وړ ونډه درلوده .

ښځې د اسلامي تمدن په پرمختګ کې د پام وړ ځای درلود او حتی اوس هم په ټولو اسلامي هیوادونو کې د زده کړې او کار کولو حق لري، ښځې د نړۍ په کچه په معتبرو مقامونو کې ټاکل شوې دي، همدا اوس په نړۍ کې د تر ټولو زیاتې ولسواکۍ هیواد (هند) ولسمشره ښځه ده.

څرنګه چې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، د یو نړیوال سند په توګه، د انسانانو مساوي حقونه ثبت کړي او وایي: "ټول انسانان آزاد او په کرامت او حقونو کې مساوي دي ".

هیڅ معتبر نړیوال سند نارینه او ښځینه نه جلا کوي، او ټول اعلامیی ،د اسلامي همکاریو د سازمان د پرېکړو په ګډون د عصري نړۍ کنوانسیونونه، پرېکړې او لیکونه د جنسیت له توپیر پرته ټولو انسانانو ته یو شان مخطاب دی.

د دې دلیل پر بنسټ په ماهیت کې د نارینه او ښځې تر منځ د توپیر هېڅ دلیل نشته .

د نړیوال اقتصادي، ټولنیز او کلتوري میثاق دیارلسمه ماده چې افغانستان پکې غړیتوب لری ،د نړۍ ټول هېوادونه او د افغانستان واکمنان "مسوله" ګڼي چې د هلکانو او نجونو لپاره له لومړنیو څخه تر لوړو زده کړو پورې د زده کړی او تحصیل زمینه برابره کړي.

د طالبانو تر واکمنۍ او د سرپرست د حکومت له جوړېدو وروسته د لومړنیو ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې پرانستل شوې، خو له بده مرغه د نامعلومو او مجهولو دلایلو له امله په دولتي ښوونځیو کې له ۷ تر دولسم ټولګي پورې د بشری حقوقو خلاف د نجونو زده کړه بنده شوی.

د طالبانو د حکومت د مشرانو له ژمنو سره، سره او د ویاندو د وعدو سره بیا هم د نجونو پر مخ د ښوونځیو دروازې تړلي پاتې دي.

دا ډول کړنې او ناسمې پرېکړې د خلکو او کورنیو د حساسیتونو او ناخوښۍ لامل شوي او د طالبانو سرپرست حکومت په قصدي او یا غیر ارادي ډول د خپل ځان پر وړاندې د دښمنۍ اور بلوي .

د همغږۍ ملي شورا په دې اند ده، چې د علم حاصلول په هر مسلمان فرض دي. مکتبونه، پوهنتونونه او نور درسي مرکزونه د تعلیم او تربیې مرکزونه دي، چې ایمان هم د هغه په رڼا کې لا ځلانده بریښی.

د نجونو پر مخ د دې علمي مرکزونو بندول د قرانکریم له احکامو سره سمون نه لری.

مونږ پدی باور یو چه هر ډول بی توجوهی او ځنډ د ښونځیو په پرانیستلو کی نه درناوی او ځنډ په باورونو کی رامځ ته کوی.

نو غواړو چې د ښوونځیو دروازې دی له شپږم ټولګی څخه پورته د نجنو لپاره ،ژر تر ژره خلاصې شي ،او مونږ په دې برخه کې د خلکو له غوښتنو مکمل او پرته له کوم خنډه ملاتړ کوو.

**د ملی خبرو اترو د همغږۍ شورا**

*************